# ځوک چې د يو مسلمان حق په ناحقه قسم خوړلو سره واخلي، نو الله تعالی پرې دوزخ لازم ګرځولی او جنت يې پرې حرام کړی دی» يو سړي ورته وويل: «ای د الله رسوله! که ډېر لږ هم وي؟» هغه وفرمايل: «که د مسواک د يو ډکي په اندازه هم وي

د ابوامامه، اياس بن ثعلبه الحارثي رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «ځوک چې د يو مسلمان حق په ناحقه قسم خوړلو سره واخلي، نو الله تعالی پرې دوزخ لازم ګرځولی او جنت يې پرې حرام کړی دی» يو سړي ورته وويل: «ای د الله رسوله! که ډېر لږ هم وي؟» هغه وفرمايل: «که د مسواک د يو ډکي په اندازه هم وي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

نبي کريم صلی الله عليه وسلم په دروغو د قسم خوړلو په اړه خبرداری ورکړی چې ځوک په دروغو سره قسم وخوري حال دا چې پوهېږي، تر څو پرې د يو مسلمان حق په ناحقه تر لاسه کړي، نو د دې عمل سزا د دوزخ مستحق ګرځېدل او له جنت څخه محرومېدل دي. او دا (عمل) له کبيره ګناهونو څخه يو دی. يو سړي وويل: ای د الله رسوله! که چيرته هغه شی ډېر لږ وي چې قسم پرې خوړل شوی دی؟ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: حتی که دا (ناحق اخيستل شوی شی) د هغه مسواک د يو وړوکي ښاخي په اندازه هم وي، چې د اراک له ونې اخيستل کېږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee